هفته واره رساله

# د عطار ليکونه

(د مرکزي مجلِسِ شورٰی د اراکينو په نوم)

# WRITINGS OF ATTAR

(for the members of
Central Executive Committee)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د عطار ليکونه

## (د اراکينِ مرکزی مجلسِ شوږی په نوم)

### اول دا اولولئ

د الله پاک په رحمت او د هغهٔ د خوږ خوږ آخري نبي، مَكِّي مَدَني محمدِ عَرَبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فيضانِ کرم سره په خلکو د عشقِ رسول ډک ډک جامونه څښونکے، د صحابه او اهلِ بيت عليهم الرضوان ادب او احترام ښودونکے، نهٔ صرف د نيکو لاره ښودونکے بلکې د سُنّتو په لاره چلوونکے، د اوليائے کرامو محبت په زړونو کښې زياتوونکے د عاشقانِ رسول د سُنّتو ډک ديني تنظيم **”دعوتِ اسلامي“** 1981 کښې په وُجود کښې راغلو-

د دعوتِ اسلامي باني، اميرِ اهلِسُنّت، حضرت علّامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي دَامَت بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه به په شروع شروع کښې د يو څو اسلامي ورونړو سره په ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو په جذبه کښې کوڅه په کوڅه، محلّه په محلّه، کلي په کلي او بيا ښار په ښار سفر کولو او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنّتو پيغام به يـې خوررولو:

میں اکیلا ہی چلا تھا جانبِ منزل مگر — لوگ ساتھ آتے گئے اور کارواں بنتا گیا

زۀ يواځې د منزل په لور روان شوم — په راتلو د يو يو کس جوړ شو کاروان

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دينِ متين خدمت او د قرآن او سُنّت فيضان عام کولو کومه سلسله چې په 1981 کښې شروع شوې وه هغه شپه او ورځ جاري ده، کومه چې د پاکستان د مشهور ښار کراچۍ نه د اندرونِ سندھ، بيا پنجاب، کے پي کے (يعنې خيبر پښتونخوا) او بلوچستان او بيا د پاکستان نه بهر هندوستان، يوکے، يورپ، امريکه، افريقه، کينيډا، مليشيا او انډونيشيا سره سره د دنيا ډيرو ملکونو ته رسيدلې ده۔

د اميرِ اهلِسُنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په لرې سوچ باندې لاکونه سلامونه، هغوئي ډيرو حکمتونو مصلحتونو ته د کتلو په وجه ستمبر 2000 عيسوي کښې په خپلو ډيرو ډيرو کوششونو باندې جوړ کړي د خپل ګران ديني تنظيم دعوتِ اسلامي **"مرکزي مجلسِ شوری"** جوړ کړو، د دې د ټولو نه اولنے نګران يې د زمانې مشهور نعت خوان، بلبلِ مدينه الحاج محمد مشتاق عطاري قادري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه جوړ کړو او د هغې نه پس يې د نګرانِ شورٰی انتخاب په مرکزي مجلسِ شورٰی پريښودو- ځغه وخت کښې مرکزي مجلسِ شورٰی په 11 کسانو مشتمله وه، تر اوسه پورې سره د نګرانِ شورٰی د دوئي شميره 29 ده-

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د راقمُ الحروف ابو محمد طاهر عطاري عُفِیَ عَنۡه په عرض کولو تقريباً درې کاله وړاندې 2022 کښې د سفرِ مدينه په دوران کښې د مرکزي مجلسِ شورٰی بعضې اراکينو ته مختلف مدني ګلونه په خپل قلم وليکل او بيا وروستو يې د ټولو اراکينِ شورٰی په نومونو د ليکونو دا سلسله مکمله کړه- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! دا رساله چې نوم يې **"د عطّار ليکونه (د اراکينِ مرکزی مجلسِ شورٰی په نوم)"** دے، دا د هغو ټولو ليکونو مجموعه ده-

**اللّٰه** کريم دې د اميرِ اهلِسُنّت سورے زمونږ په سرونو قائم او دائم لري او مونږ ته دې د هغوئي د جوړ کړي مرکزي مجلسِ شوڑی د شريعت په دائره کښې د تابعدارئ کولو سره د دعوتِ اسلامي ديني کارونو کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّى الله عليه واٰله وسلّم

**د غمِ مدينه، بقيع او د بې حسابه بخښنې طلبګار:**

**ابو محمد طاهر عطاري مدني** عُفِيَ عَنْه

**د عطّار دُعا** :**ياربِّ** کريم! څوک چې دا رساله **"د عطّار ليکونه (د اراکينِ مرکزی مجلسِ شوڑی په نوم)"** ولولي يا يې واوري، هغهٔ ته د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې استقامت ورکړې او سره د مور پلار او سره د خاندان يې په جنت الفردوس کښې بې حسابه داخليدل نصيب کړې- اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّى الله عليه واٰله وسلّم

## دعوتِ اسلامي زِنده باد (اٰمين)

**د عطّار دُعا**: يا **اللّٰه** پاکه! څوک چې پهٔ خپل کور، دکان، دفتر، ګاډي وغيره باندې " دعوتِ اِسلامي زنده باد" وليکي هغه پهٔ دُنيا او پهٔ

اخرت کښې سلامت وساتې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه وبخښې- اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**(د حاجي عمران نګران شوریٰ د پاره تحفه)**

## د حيا اهميت

پهٔ حديثِ قُدسي کښې د **اللّٰه** پاک فرمان دے: "اے اِنسانه ستا دِين د هٗغه وخته پورې صحيح نشي کيدے د څو پورې چې ستا ژبه سمه نهٔ شي او ستا ژبه د هغې پورې سميدے نهٔ شي د څو پورې چې تهٔ د خپل رَبّ عزّوجل نه حيا اونکړې-" (رفيق الحرمين، ص13 تا14)(نصيحتوں کے مدنی پھول بوسيلۂ احاديثِ رسول، ص29)

**(د حاجي محمد شاهد عطاري ( نګرانِ پاک) پهٔ خدمت کښې ډالۍ)**

## د عرش او کرسۍ نه هم غوره

(پهٔ قبر مبارک کښې) د **اللّٰه** پاک د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وجود مبارک سره چې د زمکې کومه حصه لګيدلې ده هغه د کعبې شريفې نه بلکې د عرش او کُرسی نه هم افضله ده- (دُرِّ مختار ج4، ص62)

**(دا ليک د حاجي عبد الحبيب عطاري د پاره تحفه ده)**

## په غُصّه باندې د قابو موندلو فضیلت

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " کوم کَس چې خپله غصه قابو کړي اللّٰه پاک به د قیامت په ورځ د هغهٔ نه خپل عذاب منع کړي- " (شعب الایمان، ج4، ص315، حدیث: 8311)

**(د حاجي محمد امین عطاري پهٔ خدمت کښې د مدینے منورې د سفر یادګاري ډالۍ)**

## د حافظې د قوت د پاره ښکلے عمل

د ماسخوتن د نـمونځ نه پس 3 بادام راواخلئ درودِ پاک لولئ او پهٔ اوبو کښې یـې واچوئ، د سحر د نـمونځ نه پس او که چرې روژه نیول وي نو د پیشمني پهٔ وخت درود شریف لولئ او د اوبو نه یـې راوباسئ او پوستکے ترې لرې کړئ او دري وارړو بادام پهٔ یَا عَلِیۡمُ یَا قَوِیُّ 100 کرته دم کړئ او وه یـې خورئ- د ماشومانو د پاره دا عمل کولے او پهٔ هغوئي باندې یـې هم خوړلے شی- دا عمل چې څو ورځې غواړی کولے یـې شی، د روزانه معمول ترې هم جوړولے شی، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! یاد داشت به مو ډیر مضبوط شي-

**(د الحاج قاري ایاز عطار (رکنِ شوریٰ) پهٔ خدمت کښې ډالۍ)**

## زما د پاره د ټولو نه ښه تحفه ده: "سلام"

صحابي نبي حضرت ابو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: "ما له زما کوم مسلمان ورور داسې تحفه نۀ ده راکړې چې د سلام نه زياته زما خوښه وي۔" (الزّهد للامام احمد بن حنبل، ص164، حديث: 755)

**د حاجي محمد اسلم عطاري (رکنِ شورٰی)**

**خانپور والا پۀ خِدمت کښې ليکلې تحفه**

## د مُحتاجۍ نه د بچ کيدو وظيفه

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ الْمُبِيْن

چې چا 100 کرته روزانه ولوستل هغه به پۀ دُنيا کښې د محتاجۍ نه بچ اوسي، هغه به پۀ قبر کښې نۀ ويريږي او د هغۀ د پاره به د جَنَّت دروازې پرانستلے کيږي۔ (شرح الصدور، ص158)

(د رُکنِ شورٰی حاجي رفيع العطاري پۀ خدمت کښې ډالۍ)

# آهٔ! زهٔ د مدینے نه واپس راغلم

چُھپ گیاہوں نگاہوں سے، آہ!سب مدینہ کا
دلکش و حَسیں منظر، میں مدینہ چھوڑ آیا
دُور ہو گیا سرکار! آہ غمزدہ عطار
جلد آؤں پھر دَر پر، میں مدینہ چھوڑ آیا

(د رکنِ شورئ حاجي یعفور رضا عطاري پهٔ
خدمت کښي د مدینے پهٔ غم کښې د ډوب شوي لیک تحفه)

# د نورو عیبونه مهٔ لټوئ

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي:

" د نورو د عیبونو د لټولو نه د بچ کیدونکي د خپلو عیبونو د اِصلاح توفیق نصیب کیږي-" (المنبّهات، ص90)

(د حاجي وقار المَدینه پهٔ خدمت کښې ډالۍ)

# د خبرې قیدي

" وئیلے کیږي چې خبره د اِنسان پهٔ قید کښې وي خو د وئیلو نه پس اِنسان د هغې قیدي جوړ شي-" (المستطرف 147/1)

(د رکنِ شورئ حاجي اطهر علي عطاري پهٔ خدمت کښې ډالۍ)

## يو اسان کار

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”چې خوک د خپل کور نه د وتو په وخت بِسمِ‌الله ولولي نو فرښته وائي: ستا ذمه واري واخستے شوه۔“ (حلیۃ الاولیاء 299/7، حدیث: 10592)

**(د حاجي محمد امين قافله پهٔ خدمت کښې تحفه)**

## د زړهٔ د روښانه کيدو نخښه

د ځينو عارفانو قول دے: مُسکا او روڼ تندے د زړهٔ د روښانه کيدو نخښه ده۔ (فیض القدیر، 297/3، تحت الحدیث: 3231)

**د الحاج قاري محمد سليم عطاري (رکن شوریٰ)**

**پهٔ خدمت کښې بے بها ډالۍ**

## د نعمت ختميدلو سبب

د اِمام اِبنِ حجر عسقلاني رَحمَۃُ اللهِ عَلَيْه اِرشاد: ” د **الله** پاک نافرمانۍ اکثر د نعمتونو د ضائع کيدو (يعنې د کميدو يا ختميدو) وجه جوړيږي۔“ (فتح الباری، 257/12)

**د حاجي محمد علي (رکنِ شوریٰ) پهٔ خدمت کښې ليکلې ډالۍ**

## د زړهٔ د پاره زيات فائده مند څيز

حضرت محمد بن يونس رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: " ما د صالحانو (يعنې د نيکانو بندګانو) د ذِکرِ خير نه زيات فائده مند بل هيڅ څيز د زړهٔ د پاره نهٔ دے ليدلے-" (صفة الصفوة، ج 1 ص 20)

**د عبد الوهاب عطاري (رکنِ شوریٰ) د پاره ليکلې تحفه**

## اے سترګو وينې توئ کړئ

افسوس! چند گھڑیاں طیبہ کی رہ گئی ہیں
اے آنکھ! خون رولے تو رونا ہے جس قدر

**(الحاج سيد اِبراهيم شاه صاحب ته ډالۍ)**

## د الله پاک پټ تدبير (يعنې پټه فيصله)

" ځينې اعمال به خلق نيکۍ ګڼي او کوي به يې خو هغه به د قيامت په ورځ د ګناهونو په چابړي کښې وي-" (احياء العلوم ج 1، ص 170)

**(د رکنِ شوریٰ حاجي عقيل مدني په خدمت کښې تحفه)**

## د خاورېٖ لوښي

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: " څوک چې پهٔ کور کښې د خاورې لوښي ساتي فرښتے به د هغې زيارت کوي-" (ردّالمحتار، 566/9)

منقول دي چې د خاورې پهٔ لوښو باندې هيڅ حساب نشته- (قوت‌القلوب، 10288/1)

**(د حاجي ابو ماجد محمد شاهد مدني (رکنِ شوریٰ)پهٔ خدمت کښې تحفه)**

## د سُنَّت فضيلت

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " چا چې زما د سُنَّت سره محبت اوکړو هغهٔ زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي-" (مشکاة ج 1، ص55، حديث: 175)

**(د رکنِ شوریٰ الحاج سيد لقمان شاه صاحب پهٔ خدمت کښې ليکلې ډالۍ)**

## د مريض تپوس

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د يو مريض د تپوس د پاره ځي نو د اسمان نه يو اواز کوونکے اواز کوي: ستا

د پاره دې زيرے وي، ستا تلل ښهٔ دي او تا د جَنَّت يو منزل خپله استوګنه جوړه کړه۔ (ابنِ ماجه، ج2، ص192، حديث:1443)

**(د رکنِ شوریٰ حاجي فضيل رضا عطاري د پاره تحفه)**

## د نمونځ اهميت

حضور خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه، يو ځلې په ژړا ژړا کښې وفرمائيل :"نمونځ د دين ستن ده، چې تر څو پورې ستن سلامته وي کور به هُم سلامت وي او چې کله ستن پريوځي نو کور به هم راپريوځي :" (فيضان غريب نواز، ص7)

**(رکنِ شوریٰ الحاج الحافظ محمد اسد مدني سلمه الغني په خدمت کښې تحريري ډالۍ)**

## خاموشه اوسيدونکے بزرګ

د حضرت سَيِّدُنا محمد بن نَضر حارثي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سره د عَبادان نه د کوفې سفر کوونکي يو صاحب بيان دے چې پهٔ ټوله لار باندې حضرت يوه خبره هم اونکړه، چې د هغوئي به څهٔ کار راپيښ شو نو د خپل ځوي

طرف ته به يـې وکتل نو هغه به پاڅيدو او هغه کار به يـې اوکړو- (حلية الاولياء، ج8، ص240، قول نمبر: 12022)

حضرت محمد بن نَضر حارثي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير زيات خاموشه اوسيدونکـے بزرګ وو، فرمائي: د عِلم شروع خاموشي ده، بيا په غور اوريدل، بيا هغه ياد ساتل، بيا په هغې باندې عمل کول او بيا هغه خورول- (حلية الاولياء، ج8، ص239، قول نمبر: 12014)

( د رکنِ شوریٰ حاجي اظهر عطاري په خدمت کښې ډالۍ)

## مختصرې خبرې

د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمان مبارک دے: خَيْرُ الْكَلَامِ مَا قَلَّ وَدَلَّ يعني: ښه خبره هغه ده کومه چې مختصر وي او جامع (يعني پوره) وي- (التعليقة للقاضی حسين (علیٰ مختصر المزنی)، 148/1)

( د رکنِ شوریٰ حاجي جنيد مدني سلمه الغني په خدمت کښې ليکلې تحفه)

## د مدينے په سخته باندې د صبر فضيلت

د نبي اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو فرمان دا هم دے: " چا چې د مدينے په تنګدستۍ او سخته باندې صبر اوکړو زۀ به د قيامت په ورځ د

هغۀ شفاعت كووم يا به د هغۀ پۀ حق كښې ګواهي وركووم-" (مجمع الزّوائد، 657/3، حديث: 5819)

**د رُكنِ شورئ حاجي محمد فاروق جيلاني پۀ خدمت كښې ډالۍ**

## د مكے د ګرمۍ فضيلت

د نبي اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " څوک چې د ورځې څۀ وخت د مكے پۀ ګرمۍ باندې صبر اوكړي د دوزخ وور د هغۀ نه لرې كيږي-" (اخبار مكة للفاكهی، ج 2، ص 310، حديث: 1565)

**(د ركنِ شورئ حاجي بغداد رضا د پاره تحفه)**

## د ټولو نه زيات مهربانه

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " زما د اُمت د پاره د ټولو نه زيات مهربانه ابو بكر صِدّيق (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) دے-" (ترمذی، ج 5، ص 435، حديث: 3815)

**(د حاجي منصور عطاري پۀ خِدمت كښې ډالۍ)**

## حافظه مضبوطيږي او نظر تيزيږي

د ګاځرو پۀ موسم کښې روزانه د يوې ګاځرې خوړلو سره حافظه مضبوطيږي او نظر تيزيږي د دې پورې چې که چشمې اچوي نو نمبرې کميدل به شروع شي- (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!)

(ګاځره وينځئ او بغير د پوستکي لرې کولو نه يې خورئ د پوستکي لرې کولو سره د دې نه لاندې موجود وټامن سي ضائع کيدے شي)

**(د رکنِ شوریٰ حاجي برکت علي عطاري پۀ خدمت کښې تحفه)**

## د دُعا د قبليدو اهم مقام

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: " د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ مزار شريف کښې دُعا قبليږي-" (فضائل دعا، ص138 ملخّصاً)

**(د رُکنِ شوریٰ حاجي خالد عطاري (U.K ) پۀ خدمت کښې ډالۍ)**

## جَنَّت ته به نۀ ځي

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " دوکه کوونکے به جَنَّت ته نۀ داخليږي-" (ترمذی، 388/3، حديث: 1970) يعني د دوکې د عذاب د خَکلو نه پس به جَنَّت ته داخليږي-

**د عبد المُبين عطاري (بنګله ديش) پۀ خِدمت کښې تحفه**

## د دعا په وخت کښې د زړهٔ د نرمۍ اهميت

فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "د **رِقَّتِ قَلْب** (يعنې د زړهٔ نرمۍ او د ژړا وغېره) په وخت کښې دُعا غنيمت اوګڼئ-" (کنز العمال، الجزء الثانی، 1/48، حديث: 3367)

**د اُمِّ ربيع عطاريه د پاره سوغات**

## د بِي بِي فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه به د جنت خوشبو راتله


د سَيِّده خاتونِ جنّت حضرت بِي بِي فاطمه زهرا رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د مبارک بدن نه به د جنت خوشبو راتله کومه به چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بوئيوله، ځکه د هغې لقب "زهرا" شو- (مراۃ المناجيح، 8/453)

**د اُمِّ قُربان عطاريه (رابطه برائے شخصيات) په خدمت کښې سوغات----**

## د منافقت نه پاک زړهٔ

فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "په محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې چې څوک درود پاک اولولي د هغهٔ زړهٔ به د مُنافقت نه داسې صفا شي لکه څنګه چې کپړه په اوبو صفا کيږي-" (القول البديع، ص 277)

**د اُمِّ صَفاء عطّاريه (حج او عُمره وغيره) په خدمت کښې سوغات-**




فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net